مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: سید عبیدالله نادر ۲۰۲۳/۰۶/۲۷

د خدای تعالی دیدار

لنډه کیسه

یو عارف چې نیت یې کړی وو ، چې څلویښت شپې چله ونیسي اویا عبادت وکړی ، او نیت یې دا وو، چې د خدای تعالی دیدار وکړي ،د ورځې به روژه وو ، او د اعتکاف په حالت کې یاني د خدای د مخلوق څخه به یې ځان گوښه کړی وو، سهار روژه او د شپې به په قیام او تضرع کې د خدای تعالی په درگاه کې بوخت وو ، نو د عبادت او چلې نیولو په ۳۶ شپه یې په خپل ځان کې یو غیبی آواز واوریده ،چې ویلې یې : شپږ بجی وروسته د ماسپښین نه د مسگرانو بازار او دکانونو ته مخی ته ورشه هلته به خدای تعالی دیدار ووینې ،عارف وایي : چې زه یو ساعت وختی همغی بازار ته ولاړم ،او هلته حاضر شوم ، او ټاکلي دکان پسې گرځیدم ،وایی : یوه زړه ښځه می ولیده ،چې یو مسی دیگ یې په لاس کې نیولی وو ،اود خرڅولو په تمه یې، دکان په دکان گرځاړوه او مسگرانو ته به یې ښوده ، چې مگر که کوم دکان دار یې په ښه بیه واخلي ،هر مسگر ته به یې چې وښوده ، هغه به لمړی وزن کړ ،او ورته به یې وویل : چې څلور ریاله او شل شاهی یې اخلو ،بودا ښځې به زاری کولې چې نه کیږي ، هغه په شپږ ریاله واخلي ،؟مسگرانو به ویل : چې موری مونږ ته د دې نه زیات واره نه کوی ،زړې ښځې به بیا په ناهیلی سره، دیگ په خپل سر کېښود او په بازار کې به روانه شوه ، او ټولو به همدا یو قیمت ورته وییلي :لنډه یې دا چې د یو مسگر دکان ته ورسیده ، چې زما د نظر دکان وو ، د مسگر دکان ته ودریده مسگر سخت په خپل کار کې بخت وو ، ښځې ورته وویل : ځویه دغه دیگ ما خرڅولو ته راوړی ، په شپږ ریاله یې خرځومه دا نه اخلی؟ دکان دار وویل ولې په شپږ ریاله ؟؟؟سپین سری بودا د خپل زړه غوټه ورته خلاصه کړه ،چې یو مریض ځوی په کور کې لرم ،د طبیب د نسخې پیسې او د هغې د څو ورځې د خرڅ او خوراک پیسې نه لرم ،او د هغې د نسخې پیسې شپږ ریاله کیږي ، چې هغه باید واخلم ،او دا بیان یې په ډیر ژړه غوني حالت کې کاوه ،چې هر درد من او د احساس خاوند انسان یې یې ژړوه ،مسگر دیگ واخیست ، او بودې ښځې ته وویل : دا دیگ ډیر قیمتی دیگ دی ، او روغ رمټ دی ، که ستا خوښه وي زه یې په څلویښت ریاله اخلم ، ښځې ورته وویل : چې ته
په ما ملنډې وهی ؟مسگروویل نه هیڅکله زه ملنډې نه وهم ، د دې له پاره چې د بیوسي ښځې ډاډ ژر حاصل شی ،نوسمدستی یې څلویښت ریاله ورته ژر په لاس کې ورکیښودلې، بوډۍ ښخه ډیره حیرانه شوه ، او د حیران توپ او منډو منډو حالت کې د کور په خوا ، او د ډیرو دعا گانو سره د خپل کور په لو ر رهي شوه ، د ریاضت خاوند او عارف وایي : زه چې ناظر د دې صحنې وم ، او د خدای سره د ملاقات وخت هم رانه هیر وو ،نو د مسگر دکان ته راخوځیدم ،او مسگر ته می وویل:چې کاکا مگر ته په کسب وکار بلد نه یې ؟!!! اکثرو مسگرانو د بازار دا دیگ وتله او د څلور ریاله او شپږ شاهی نه یې زیاته بیه پرې کښینښو ده،او ته هغه په څلویښت ریاله اخلي ؟!!!
مسگر وویل ما دیگ نه دی اخستی ،ما پیسې ورکړې چې هغه د خپل ځوي د نسخې دوا پرې واخلي ،او یوه هفته په ډاډه زړه او بی له اندیښنې د خپل ځوی پرستاری پرې وکړي ، او د هغی تر څنگه ،پیسې می پردي زیاتې ورکړې چې مجبوره نه شي چې د خپل کور نور وسایل او سامان خرڅ کړي، او سر گردانه نه شي ،پیسې می ورکړې چې یو څو ورځې روحی آرامی ولري ،ما دیگ نه دی اخیستی ،وایي : زه د خپلې خبری څخه سخت شرمند شوم ،او په ژور فکر کې ډوب تللی وم ،چې هغه آواز می بیرته په خپل وجود کې واریده، چې ویل یې :په چله نیولو او شپه او ورځ عبادت او ځان د خدای له مخلوقه لیرې کول د اعتکاف په نامه یا لیری ساتلو، څوک زمونږ زیارت ته نشي راتلای ،!!!د یو ولیدلی او درمانده انسان لاس نیوی وکړه، نو مورږ خپله ستا زیارت ته راځو ،
»»»